# قرنتیانو ته د پولوس رسول دوهم لیک

د کتاب پېژندنه

پولوس دا لیک هغه وخت لیکلی دی چې د قرنتوس د کلیسا سره د هغه اړیکې تر فشار لاندې وې. ځینو خلکو هلته په ښکاره توګه د پولوس سره خپل سخت مخالفت ښکاره کړ. خو په دې لیک کې پولوس د هغوی سره د اړیکو د ښه کولو د دپاره خپله ژوره لېوالتیا ښکاروي او د داسې اړیکو رامنځته کول د هغه دپاره د ډېرې خوشحالۍ سبب ګرځي.

د خپل لیک په لومړۍ برخه کې پولوس د قرنتوس کلیسا سره خپله اړیکه تشریح کوي. هغه په ډاګه کوي چې ولې یې هغوی ته دومره سخت ځواب ورکړ او هغوی یې ملامته کړل. پولوس همدا شان خپله خوشحالي ښکاروي چې د هغه دا کار په هغوی کې د توبې او پخلاینې سبب شوی دی. بیا هغه په قرنتوس کې د کلیسا د ټولو غړو څخه غوښتنه کوي چې د یهودیې په ولایت کې د محتاجو ایماندارانو سره سخاوتمندانه مرسته وکړي. د خپل لیک په وروستۍ برخه کې پولوس د یو شمېر خلکو په وړاندې د خپل ځان څخه دفاع کوي چې د قرنتوس په ښار کې یې ځانونه لوی رسولان ګڼل او په هغه باندې یې ناحقه تورونه لګول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دې لیک د متن څخه مونږ کولای شو په ښکاره توګه د پولوس د شخصیت ځانګړتیاوې درک کړو او د هغه په شخصي ژوند او د عیسی مسیح په خدمت کې د هغه صداقت او رښتینولي په واضح توګه وګورو.

## د موضوعګانو لست

د لیک سریزه: ۱:۱-۱۱
پولوس او د قرنتوس کلیسا: ۱:۱۲ - ۷:۱۶
د یهودیې د مسیحیانو د دپاره مرستې: ۸ - ۹ فصلونه
پولوس رسول د خپل خدمت څخه دفاع کوي: ۱۰:۱ - ۱۳:۱۰
د لیک پای: ۱۳:۱۱-۱۴

۱ ۱ دا لیک د پولوس له خوا چې د خدای په ارادې د عیسی
مسیح رسول دی او زمونږ د ورور تیموتاوس له خوا د خدای کلیسا
ته چې د قرنتوس په ښار کې ده او په ټول جنوبي یونان کې د خدای
ټولو خلکو ته. ۲ زمونږ د پلار خدای او څښتن عیسی مسیح
فضل او سلامتي دې وي په تاسو باندې.

## د ډاډ ګیرنې په خاطر د خدای څخه د پولوس شکرګزاري

۳ ثنا او صفت دې وي خدای ته یعنې زمونږ د څښتن عیسی
مسیح پلار ته چې مهربانه پلار او د تسلی سرچینه ده. ۴ هغه
مونږ ته په ټولو ستونزو کې تسلي راکوي، ترڅو مونږ وکولای شو
هغو خلکو ته تسلي او ارامي ورکړو چې د ستونزو سره مخ دي، نو
مونږ هم هغوی ته هغه تسلي ورکړو چې خدای مونږ ته راکړې ده.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٥ لکه څنګه چې مونږ د مسیح سره په ډېرو کړاوونو کې شریک
یو، نو د مسیح په وسیله د هغه په ډېرو ارامیو کې هم شریک یو.
٦ که چیرې مونږ د ستونزو سره مخامخ کېږو، نو دا ستاسو د
تسلی او خلاصون په خاطر دي او که مونږ تسلي مومو نو دا ستاسو
دپاره ده، ترڅو تاسو هم په صبر او حوصلې سره هغه کړاوونه
وزغمئ چې مونږ يې زغمو. ٧ مونږ چې ستاسو نه کومه هیله لرو
هغه ټینګه ده، ځکه چې مونږ پوهیږو لکه څنګه چې زمونږ سره په
کړاوونو کې شریک یئ، نو په ارامی کې به هم زمونږ سره شریک
اوسئ.

٨ ای خویندو او ورونو! مونږ نه غواړو چې تاسو د هغو ستونزو
څخه چې مونږ ورسره د اسیا په ولایت کې مخامخ شولو، بې‌خبره
پاتې شئ. کوم بار چې زمونږ په اوږو باندې کېښودل شو، هغه دومره
دروند ؤ چې زمونږ د توان نه پورته ؤ او حتی مونږ د خپل ژوند
څخه نا‌امیده شوي وو. ٩ په ربښتیا سره مونږ دا احساس کاوه چې
په مونږ باندې د مرګ حکم شوی دی. خو دا په دې خاطر ؤ ترڅو
مونږ په خپل ځان باندې نه بلکې په خدای باندې چې مړي راژوندي
کوي، تکیه وکړو. ١٠ هغه مونږ د وژونکي خطر نه خلاص کړو او
مونږ به ژغوري. مونږ د هغه څخه هیله لرو چې بیا به مونږ ژغوري.
١١ تاسو هم په خپلو دعاګانو سره زمونږ سره مرسته کوئ، ترڅو
ډېر خلک د هغه فضل په خاطر چې د خلکو د دعاګانو له امله
خدای مونږ ته راکړی دی، د هغه شکر وکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پولوس د نقشې بدلېدل

۱۲ مونږ په دې وياړ کوو او زمونږ وجدان هم د دې شاهد دی چې
مونږ د دې نړۍ د خلکو او په ځانګړې توګه ستاسو سره د خدای د
صداقت او اخلاص له مخې چلند کړی دی. خو دا کار مونږ د خدای
د فضل په وسیله کړی دی، نه د انساني حکمت په وسیله. ۱۳-۱۴
ځکه هغه څه چې تاسو ته يې ليکو، په هغه کې داسې څه نشته چې
تاسو يې لوستلی نه شئ او يا پرې نه پوهېږئ، بلکې يوازې هغه څه
دي چې تاسو يې لولئ او ورباندې پوهېږئ. مونږ په دې هيله يو لکه
څنګه چې مونږ تر يو حده پېژنئ، په دې شيانو باندې به په پوره
توګه پوه شئ. نو کله چې زمونږ څښتن عيسی بېرته راشي، لکه څنګه
چې مونږ په تاسو باندې وياړ کوو، تاسو به هم په مونږ باندې وياړ
کوئ.

۱۵ ځکه چې زه په دې باندې ښه ډاډه وم، نو ما وغوښتل چې د
ټولو نه مخکې ستاسو سره ملاقات وکړم، ترڅو تاسو دوه چنده
برکتونه ومومئ. ۱۶ ما غوښتل چې مقدونيې ته د تګ په وخت کې
په لاره کې او د هغه ځای نه د بېرته راتللو په وخت کې ستاسو سره
ووينم او ستاسو په مرسته يهوديې ته لاړ شم. ۱۷ نو کله چې ما د
سفر نيت وکړ، ايا په دې کې زړه نازړه وم؟ ايا زما نقشې د دې نړۍ د
خلکو په شان دي چې په همدې يو وخت کې کله «هو» وايم او کله
«نه» وايم؟ ۱۸ لکه څنګه چې د خدای خبرې رښتيا دي، نو تاسو
ته زمونږ خبرې هم په يو وخت کې کله «هو» دي يا کله «نه.» ۱۹
ځکه چې د خدای زوی عيسی مسيح چې د هغه په هکله ما او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سیلاس او تیموتاوس تاسو ته وعظ وکړ، هېڅکله دوه زړی نه ؤ،
بلکې د هغه هو تل «هو» وه. ۲۰ ځکه چې د خدای ټولې وعدې
په مسیح کې «هو» دي. له همدې امله مونږ د هغه په وسیله د خدای
د جلال دپاره هغه ته امین وایو. ۲۱ نو دا خدای دی چې مونږ او
تاسو ته دا توان راکوي چې د مسیح سره په یووالي کې ټینګ
ودرېږو. هغه مونږ مسح یعنې غوره کړي یو، ۲۲ هغه خپل د
ملکیت مهر په مونږ باندې لګولی دی او خپل روح یې زمونږ په
زړونو کې اچولی دی، ترڅو د هغو شیانو ضامن وي چې زمونږ سره
یې وعده کړې ده.

۲۳ خدای شاهد دی چې ما په دې خاطر قرنتوس ته د بیا راتللو
څخه ډډه وکړه چې تاسو په زحمت نه شئ. ۲۴ زمونږ مقصد دا نه
دی چې مونږ لکه د یو مشر او امر په توګه تاسو ته ووایو چې تاسو
باید په څه شي باندې ایمان ولرئ، بلکې مونږ ستاسو سره په ګډه کار
کوو چې تاسو خوشحاله اوسئ، ځکه مونږ پوهیږو چې تاسو په ایمان
کې ټینګ یئ.

## ۲

۱ نو ما پرېکړه وکړه چې تاسو ته درنشم، ترڅو نور ستاسو د
خفګان سبب نه شم. ۲ ځکه که چېرې زه تاسو خفه کړم، نو
څوک به پاتې وي چې ما خوشحاله کړي، بې له هغو کسانو چې ما
خفه کړي دي؟ ۳ ما هغه لیک تاسو ته ولیکه، ترڅو زما د راتګ
په وخت هغه خلک چې باید ما خوشحاله کړي، زما د خفګان سبب
نه شي. زه باور لرم چې زما خوشحالي به ستاسو د ټولو خوشحالي
وي. ۴ دا لیک ما په ډېر غمجن او دردمن زړه او په ډېرو اوښکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره تاسو ته ولیکه. ما نه غوښتل چې تاسو غمجن شئ، بلکې ما غوښتل چې تاسو په دې پوه شئ چې زه تاسو سره څومره زياته مينه لرم.

## د يو ګناهکار بخښنه

۵ هغه څوک چې په تاسو کې د خفګان سبب شوی دی، نه يوازې دا چې زه يې خفه کړی يم، بلکې تر يوه حده يې تاسو هم خفه کړي يئ. خو زه نه غواړم چې خبره اوږده شي. ۶ دا چې تاسو هغه ملامته کړ، نو د هغه دپاره همدومره بس دی. ۷ نو اوس تاسو بايد هغه وبخښئ او تسلي ورته ورکړئ، هسې نه چې هغه د ډېره غمه غرق شي. ۸ نو زه ستاسو نه په کلکه غوښتنه کوم چې پرېږدئ هغه پوه شي چې په رښتيا د هغه سره مينه لرئ. ۹ له دې امله ما تاسو ته هغه ليک وليکه چې تاسو وازمايم. ما غوښتل چې وګورم ايا تاسو په هر کار کې زما تابعداري کوئ يا نه. ۱۰ کله چې تاسو کوم څوک وبخښئ، نو زه هم هغه بخښم او که چيرې لازمه وي چې زه کوم څوک وبخښم، نو ما هغه د مسيح په حضور کې او ستاسو په خاطر بخښلی دی. ۱۱ دا کار د دې دپاره کوم چې د شيطان مخه ونيسو، ترڅو ونه شي کولای مونږ وغولوي، ځکه چې مونږ د هغه د نقشو او دسيسو څخه ناخبره نه يو.

## د تروآس په ښار کې د پولوس انديښنې

۱۲ کله چې زه د تروآس ښار ته ورسېدم چې د عيسی مسيح په هکله زيری ورسوم، نو څښتن راته ښه موقعه برابره کړه. ۱۳ خو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې ما خپل ورور تیتوس هلته ونه لیده، نو زما ذهن او فکر
ناارامه ؤ، نو د ترواس د خلکو سره مې خدای پاماني وکړه او
مقدونيې ته لاړم.

## په مسيح کې بریالیتوب

۱۴ خو د خدای شکر دی چې هغه مونږ تل په مسيح کې لکه د
بریالیو په قطار کې روان کړي یو. خدای زمونږ څخه په هرځای کې
د مسيح د پېژندګلوۍ د خپرولو دپاره لکه د عطرو په شان کار اخلي.

۱۵-۱۶ خدای مونږ د هغو خوشبویه عطرو په شان ګڼي چې
مسيح يې خدای ته وړاندې کوي. نو د هغو خلکو دپاره چې
خلاصون مومي، دا عطر ښه بوی ورکوي او هغوی ژوند ته بیايي. خو
د هغو خلکو دپاره چې تباه کېدونکي دي، بد بوی ورکوي او هغوی
د هلاکت خواته وړي. نو بیا څوک د دې کارونو توان او وړتیا لري؟
۱۷ مونږ د خدای په کلام سوداګري نه کوو، لکه څنګه چې ډېر
خلک دا کار کوي، بلکې مونږ هغه په اخلاص سره د هغو کسانو په
شان چې د خدای له خوا ورته دنده ورکړل شوې ده، په مسيح کې د
هغه په حضور کې خبرې کوو.

## د نوي لوظ خدمتګاران

۳ ۱ ایا مونږ یوځل بیا د خپلو ځانونو صفت کول پیل کړي دي؟
ایا لکه د نورو په شان ستاسو له خوا او یا ستاسو دپاره د سپارښتنې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لیکونو ته اړتیا لرو؟ ۲ تاسو په خپله زمونږ دپاره د سپارښتنې
لیک یئ چې زمونږ په زړونو کې لیکل شوی دی چې ټول خلک هغه
ولولي او ورباندې پوه شي. ۳ تاسو دا وښودله چې تاسو یو لیک
یئ چې مسیح هغه لیکلی دی او زمونږ په وسیله لیږل شوی دی. دا
لیک په قلم او رنګ باندې نه دی لیکل شوی، بلکې د ژوندي خدای
په روح لیکل شوی دی. هغه د تیږو په لوحو او تختو باندې نه دی
لیکل شوی، بلکې د انسان په زړونو باندې لیکل شوی دی.

۴ مونږ دا وایو ځکه چې مونږ د مسیح په وسیله په خدای باندې
باور لرو. ۵ په خپل ځان کې دا توان او وړتیا نه وینو چې دعوه
وکړو چې مونږ د داسې کار وړتیا لرو. بلکې زمونږ لیاقت او وړتیا د
خدای له خوا ده ۶ او هغه مونږ د دې وړ وګاڼه چې د نوي لوظ
خدمتګاران اوسو. دا لوظ کوم لیکل شوی قانون نه دی، بلکې د
خدای د روح له خوا دی، ځکه چې لیکل شوی شریعت د مرګ
سبب کیږي، خو روح القدس ژوند ورکوي.

۷ که چیرې هغه شریعت چې د تیږو په لوحو باندې لیکل شوی ؤ
او د مرګ سبب کیده، هغه د داسې جلال سره پیل شو چې د اسراییلو
خلکو د هغې رڼا له امله چې د موسی په مخ باندې ځلیدله، نه شو
کولای چې د هغه څیرې ته وګوري. که څه هم هغه رڼا ورو ورو
خړه پړه کیدله. ۸ که چیرې شریعت چې کار یې د مرګ رامنځته
کول دي، داسې شان او شوکت درلود، نو د خدای د روح کار به
څومره زیات شان او شوکت ولري. ۹ ځکه که چیرې هغه خدمت
چې خلک یې محکومول، داسې شان او شوکت درلود، نو هغه خدمت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زمونږ د عادل کېدلو سبب کيږي، هغه به څومره زيات شان او
شوکت ولري. ۱۰ په حقيقت کې مخکينې جلال خپله ځلا د
موجوده ډېر لوی جلال په وړاندې له لاسه ورکړې ده. ۱۱ که
چېرې هغه څه چې فناکېدونکي وو، داسې جلال يې درلود، نو هغه
څه چې تلپاتې دي، هغه به څومره زيات جلال ولري؟

۱۲ څرنګه چې مونږ داسې هيله لرو، نو په ډېرې زړورتيا سره
خبرې کوو. ۱۳ مونږ د موسی په شان نه يو چې په خپل مخ باندې
به يې پرده اچوله، ترڅو د اسراييلو خلک هغه زر تېرېدونکی جلال
ونهويني. ۱۴ خو په حقيقت کې د هغوی ذهنونه داسې بند او تړل
شوي وو چې تر نن ورځې پورې کله چې هغوی زړه لوظنامه لولي،
نو هماغه پردهورباندې پرته ده، ځکه دا پرده يوازې د مسيح په
وسيله لېرې کيږي. ۱۵ حتی تر نن ورځې پورې کله چې د موسی
تورات لوستل کيږي، نو د هغوی په ذهنونو باندې پرده پرته وي.
۱۶ خو هرڅوک چې څښتن ته رجوع وکړي، نو هغه پرده لېرې
کيږي. ۱۷ نو څښتن روح دی او په هر ځای کې چې د څښتن
روح وي، هلته ازادي ده. ۱۸ نو مونږ ټول په لوڅو مخونو باندې د
څښتن جلال ښکاره کوو او ورو ورو د هغه په زياتيدونکي جلال کې
د هغه په شکل بدليږو او دا د څښتن يعنې روح القدس کار دی.

## رڼا په تياره باندې بری مومي

۴ ۱ څرنګه چې خدای مونږ ته د خپل رحم له مخې دا کار
راسپارلی دی، نو مونږ نه نااميده کيږو. ۲ مونږ ټولو د شرم نه ډکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او پټو کارونو څخه خپل ځانونه لیرې ساتلي دي. مونږ کوښښ نه
کوو چې یو بل وغولوو او نه مو د خدای کلام غلط تعبیر کړی دی،
بلکې مونږ د خدای په حضور کې رښتیا وایو او ټول صادق خلک په
دې پوهیږي. ۳ حتی که چیرې هغه زیری چې مونږ یې اعلانوو
پټ وي، هغه یوازې د هغو کسانو دپاره پټ دی چې د تباهۍ په لاره
روان دي. ۴ شیطان یعنې د دې دنیا بادار د بې‌ایمانه خلکو
ذهنونه تیاره کړي دي، ترڅو د مسیح د جلال نه د ډک زیري هغه رڼا
چې د نالیدلي خدای تصویر دی، ونه ویني. ۵ مونږ د خپلو
ځانونو په هکله وعظ نه کوو، بلکې مونږ دا اعلانوو چې عیسی مسیح
څښتن دی او مونږ د هغه په خاطر ستاسو خدمتګاران یو. ۶
ځکه چې هماغه خدای وویل:

د تیارې نه دې رڼا وځلیږي.

هغه زمونږ په زړونو کې د خدای د جلال د پیژندنې رڼا د عیسی
مسیح په مخ باندې وځلوله.

## د خټو په لوښو کې روحاني خزانه

۷ خو مونږ خپل د خټو په منګیو کې یوه داسې خزانه لرو چې دا
وښایي چې دا ډیر لوی قدرت زمونږ نه، بلکې د خدای دی. ۸
مونږ له هرې خوا نه د ستونزو سره مخ یو، خو خپل ځان له لاسه نه
ورکوو، کله کله شک کوو، خو ناامیدۍ ته نه تسلیمیږو. ۹ مونږ
ځورول کیږو، خو د خدای له خوا یوازې نه پرېښودل کیږو. مونږ
ژوبل کیږو، خو نه تباه کیږو. ۱۰ د کړاوونو له امله زمونږ بدن تل د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسی سره په مرګ کې شریک دی، ترڅو د عیسی ژوند زمونږ په
بدنونو کې ولیدل شي. ١١ ځکه چې مونږ تل په خپل ټول ژوند کې
د عیسی په خاطر د مرګ تر خطر لاندې یو، ترڅو په فاني بدن کې د
عیسی ژوند ښکاره شي. ١٢ نو مونږ تل د مرګ سره مخ کېږو،
ترڅو تاسو تلپاتې ژوندون ولرئ.

١٣ د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

ما ایمان راوړ، نو له همدې امله خبرې کوم.

څرنګه چې مونږ هماغه ایمان لرو، نو مونږ هم خبرې کوو. ١٤
ځکه مونږ پوهیږو هغه خدای چې عیسی مسیح یې د مرګ نه
وروسته راژوندی کړ، نو مونږ به هم د عیسی مسیح سره راژوندي
کړي او ستاسو سره به مو د خدای حضور ته راولي. ١٥ دا هرڅه
ستاسو په خاطر دي او څرنګه چې د خدای فضل په خلکو باندې
نور هم زیاتیږي، نو خلک به ډېره شکرګزاري کوي او په دې به د
خدای جلال نور هم زیات شي.

## د هیلې نه ډک ژوند

١٦ نو مونږ خپله هیله له لاسه نه ورکوو. که څه هم زمونږ بدن
ورو ورو د مړ کېدلو په حال کې دی، خو په باطن کې مونږ ورځ په
ورځ تازه او قوي کېږو. ١٧ دا وړوکې او زر تېرېدونکې ستونزې
مونږ ته لوی او تلپاتې جلال برابروي چې د دې ستونزو او کړاوونو
سره د پرتله کولو وړ نه دی. ١٨ نو مونږ هغو شیانو ته نه ګورو چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس يې ليدلی شو، بلکې هغو شيانو ته ګورو چې نه ليدل کيږي،
ځکه هغه شيان چې ليدل کيږي هغه لنډمحاله دي، خو کوم څه چې
نه ليدل کيږي هغه تلپاتې دي.

## په اسمان کې زموږ تلپاتې کور

**۵** ۱ ځکه موږ پوهيږو کله چې دا دنياوي خېمه يعنې زموږ
بدن چې موږ په کې اوسيږو، راولويږي، نو موږ په اسمان کې د
خدای له خوا کور لرو چې د انسان په لاس نه دی جوړ شوی او هغه
تلپاتې کور دی. ۲ موږ په دې خېمه کې زګېروي او اوسيلي کوو
او په دې ارمان يو چې په هغه اسماني کور يعنې اسماني بدن کې
واوسيږو، ۳ په حقيقت کې کله چې موږ هغه کور ته ورداخل شو،
نو بې‌کوره يعنې بې‌بدنه به نه يو. ۴ په دې خېمه کې چې موږ
اوسيږو، هغه لکه د يو درووند بار په شان دی چې موږ ورباندې
زګېروي کوو. د دې دپاره نه چې موږ غواړو د دې فاني بدن څخه
خلاص شو، ځکه چې موږ غواړو هغه په داسې بدن باندې بدل کړو
چې تلپاتې وي. ۵ چا چې موږ د دې مقصد دپاره تيار کړي يو،
هغه خدای دی. هغه خپل روح موږ ته د ضمانت په توګه راکړی دی
چې هغه به دا کار وکړي.

۶ نو موږ تل په دې ډاډه يو او که څه هم په دې پوهيږو چې
ترڅو پورې چې موږ په دې بدن کې يو، نو د څښتن سره به په
اسمان کې نه يو. ۷ ځکه چې موږ د ايمان په وسيله ژوند کوو، نه
د کوم شي په ليدلو. ۸ هو، موږ ډاډه يو او غوره ګڼو چې دا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دنیاوي بدن پرېږدو او د څښتن سره په کور کې واوسېږو. ۹ نو که
چېرې مونږ دلته په دنیاوي کور کې اوسو یا هلته، خو زمونږ مقصد د
څښتن خوشحالول دي. ۱۰ ځکه چې مونږ ټول باید د مسیح د
قضاوت د تخت په مخکې ودرېږو. مونږ هر یو د هغو کارونو له مخې
چې په خپل بدن کې مو کړي دي، هغه څه ترلاسه کړو چې مونږ یې
وړ یو، که هغه ښه وو او که بد.

## د مسیح په وسیله د خدای سره ملګرتیا

۱۱ نو له دې امله اوس مونږ پوهېږو چې د څښتن څخه وېره څه
شی ده، نو مونږ کوښښ کوو چې نورو ته قناعت ورکړو. خدای مونږ
ښه پېژني او زه په دې هیله یم چې تاسو هم مونږ ښه وپېژنئ. ۱۲
مونږ نه غواړو چې یوځل بیا تاسو ته د خپلو ځانونو ستاینه وکړو،
بلکې غواړو تاسو ته دلیل جوړ کړو چې په مونږ باندې ویاړ وکړئ،
ترڅو وکولای شئ هغو خلکو ته ځواب ورکړئ چې د یو کس
ظاهري شکل ته ګوري او ورباندې ویاړ کوي، نه دا چې د هغه په
زړه کې څه دي. ۱۳ که څوک وایي چې مونږ لېوني شوي یو، نو د
خدای د جلال دپاره یو او که په سد یو، نو ستاسو د ګټې دپاره یو.
۱۴ ځکه چې د مسیح مینه په مونږ باندې واک لري، نو مونږ دې
نتیجې ته رسېږو چې مسیح د ټولو دپاره مړ شو، او له دې امله ټول د
هغه سره په مرګ کې شریک شول. ۱۵ هغه د ټولو دپاره مړ شو،
ترڅو څوک چې ژوندي دي، نو هغوی دې نور د خپلو ځانونو دپاره
ژوند نه کوي، بلکې د هغه چا دپاره ژوند وکړي چې د هغوی په
خاطر مړ شو او بیا راژوندی شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦ له دې امله مونږ د هېڅچا په هکله د انساني معيارونو له مخې
قضاوت نه کوو. که څه هم يو وخت مونږ د مسيح په هکله داسې
قضاوت کاوه، خو نور داسې قضاوت نه کوو. ١٧ څوک چې د
مسيح سره يوځاى کيږي، نو هغه يو نوى خلقت او موجود دى.
هرڅه چې زاړه وو هغه تېر شول. ګورئ، هرڅه نوي شول. ١٨ دا
هرڅه د خداى له خوا دي چې مونږ يې د مسيح په وسيله د خپل
ځان سره پخلا کړو او مونږ ته يې دا کار راسپارلى دى چې نور
خلک هم د هغه سره پخلا کړو. ١٩ دا په دې معنى چې خداى د
مسيح په وسيله د نړۍ سره پخلا شو او د هغوى سره يې د سرغړونو
حساب ونه کړ او د پخلاينې دا پيغام يې مونږ ته وسپاره.

٢٠ نو مونږ د مسيح استازي يو او خداى زمونږ په وسيله غوښتنه
کوي چې د مسيح په خاطر تاسو ته زاري وکړو چې د خداى سره
پخلا شئ. ٢١ مسيح په بشپړه توګه بې‌ګناه ؤ، خو خداى زمونږ ټول
ګناهونه د هغه په اوږو باندې کېښودل، ترڅو د هغه په وسيله مونږ
وکولاى شو د خداى په وړاندې عادل وګڼل شو.

٦ ١ د خداى د همکارانو په توګه مونږ تاسو نه غوښتنه کوو د
خداى کوم فضل چې تاسو يې ترلاسه کوئ، هغه بې‌ګټې نه شي. ٢
ځکه چې خداى وايي:

په سم وخت کې چې د ژغورنې ورځ ده

زه به واورمه ستا چيغې د کومک دپاره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګورئ، اوس ستاسو دپاره د خدای د مهربانۍ وخت راغلی دی او نن
د خلاصون ورځ ده.

## پولوس ستونزې او تکلیفونه زغمي

۳ مونږ د هېڅ چا په لاره کې خنډ نه جوړوو، ترڅو زمونږ په کار
کې کومه غلطي او نقص پیدا نه شي. ۴ بلکې د خدای د
خدمتګارانو په توګه مونږ په هر کار کې دا ښایو چې مونږ په ډېر
صبر سره ستونزې، سختۍ، مصیبتونه، ۵ وهل ټکول، بندي کېدل،
ګډوډي، زحمتونه، بېخوبي، لوږه او تنده زغمو. ۶ مونږ خپل
ځانونه په پاکۍ، پوهې، صبر، مهربانۍ، د روح القدس په وسیله او
بېریا مینې سره ثابتوو. ۷ مونږ رښتینی پیغام ورکوو او د خدای
قدرت په مونږ کې کار کوي. مونږ په خپل ښي لاس او چپ لاس کې
عدالت لکه د وسلې په شان نیولی دی. ۸ که زمونږ عزت کیږي یا
بېعزتي او که زمونږ سپکاوی کیږي یا ستاینه، خو مونږ د خدای
خدمت کوو. دوی مونږ غولوونکي ګڼي، خو مونږ رښتیا وایو. ۹
که مونږ ناپېژندل شوي یو، خو بیاهم مشهور یو. که د مرګ په حال
کې یو، خو بیاهم ژوندي یو. که وهل کیږو، خو وژل کیږو نه. ۱۰
که څه هم مونږ غمجن یو، خو تل خوشحاله یو. مونږ غریبان یو، خو
ډېر خلک شتمن کوو. مونږ هېڅ نه لرو، خو د هرڅه خاوندان یو.

۱۱ ای د قرنتوس د ښار ایماندارانو! مونږ تاسو ته ښکاره او صفا
خبرې وکړې. مونږ د زړه له کومې ستاسو سره مینه لرو. ۱۲ مونږ
تاسو سره داسې چلند نه کوو چې ګوندې تاسو سره مینه نه کوو،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بلکې تاسو زمونږ سره داسې چلند کوئ لکه زمونږ سره چې مینه نه
لرئ. ۱۳ اوس زه ستاسو سره داسې خبرې کوم لکه د خپلو
اولادونو سره يې چې کوم، نو تاسو هم زمونږ په شان مونږ ته په
خپلو زړونو کې ځای راکړئ.

## د ژوندي خدای کور

۱۴ د هغو خلکو سره د يو جغ لاندې مه ځې چې په مسيح باندې
ايمان نه لري. ځکه څنګه کېدای شي چې نېکي د بدۍ سره ملګرې
شي؟ دا څنګه کېدای شي چې رڼا دې د تيارې سره يوځای اوسي.
۱۵ مسيح او شيطان څنګه په خپلو کې سره جوړ راتلی شي؟ يا يو
ايماندار د يو بې‌ايمانه سره څنګه ملګرتيا لرلی شي؟ ۱۶ د خدای د
کور او بتانو ترمنځ څنګه توافق او يووالی رامنځته کېدای شي؟ ځکه
چې مونږ د ژوندي خدای کور يو، لکه څنګه چې خدای ويلي دي:

زه به د هغوی په منځ کې خپل د اوسېدلو ځای جوړ کړم او زه به د
هغوی په منځ کې اوسېږم. زه به د هغوی خدای يم او هغوی به زما
قوم وي.

۱۷ له همدې امله څښتن وايي:

تاسو د بې‌ايمانه خلکو له منځ نه راووځئ او د هغوی نه خپل ځانونه
بېل کړئ. د هغوی ناپاکه شيانو ته لاس مه وروړئ، نو زه به تاسو
قبول کړم.

۱۸ مطلق قادر څښتن وايي:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه به ستاسو پلار یم او تاسو به زما زامن او زما لورګانې یئ.

۷ ﴿۱﴾ نو ای ګرانو ملګرو، څرنګه چې زمونږ سره دا وعدې شوې
دي، نو راځئ چې خپل ځانونه د هغو شیانو څخه چې زمونږ جسم
او روح ناپاکه کوي، پاک کړو او د خدای له ویرې خپل سپېڅلتوب
پوره کړو.

## د پولوس خوشحالي

﴿۲﴾ مونږ ته په خپلو زړونو کې ځای راکړئ. مونږ د هېچا سره بد
نه دي کړي. مونږ څوک بې‌لارې کړي نه دي او د هېچا نه مو د ځان
دپاره غلطه ګټه نه ده اخیستې. ﴿۳﴾ زه دا ستاسو د ملامتولو دپاره نه
وایم، ځکه لکه څنګه چې مخکې مې درته ویلي وو، تاسو زمونږ په
زړونو کې داسې ځای لرئ چې په مرګ او ژوند کې به درسره یو.
﴿۴﴾ زه په تاسو باندې ډېر زیات باور لرم او په تاسو باندې ویاړ
کوم. تاسو زه ډېر وهڅولم او د ټولو ستونزو سره سره چې مونږ یې
لرو، تاسو زه ډېر خوشحاله کړم.

﴿۵﴾ کله چې مونږ مقدونیې ته ورسېدلو، نو مونږ ونه شو کولای چې
ارام وکړو، بلکې د هرې خوا نه د ستونزو سره مخ شولو. مونږ د نورو
سره په شخړو کې وو او په زړونو کې مو ویره وه. ﴿۶﴾ خو خدای
چې غمجنو او د ماتو زړونو خاوندانو ته تسلي ورکوي، نو د تیټوس
په راتللو سره یې مونږ ته تسلي راکړه. ﴿۷﴾ یوازې د هغه په راتللو
سره نه، بلکې د هغې تسلۍ په اړه چې تاسو هغه ته ورکړې وه، هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ ته په دې هکله وویل چې تاسو څومره زما د لیدلو په ارمان یئ،
ستاسو د ژور خفګان او وفادارۍ په هکله چې زما په اړه یې لرئ، نو
زه نور هم ډېر خوشحاله شوم.

٨ حتی که تاسو زما په لیک باندې خفه شوي هم یئ، خو زه یې
په لیکلو باندې پښېمانه نه یم. که څه هم کله چې ما ولیدل چې هغه
لیک تاسو د لږ وخت دپاره خفه کړي وئ، نو په هغې باندې زه لږ
پښېمانه وم. ٩ خو اوس زه خوشحاله یم، په دې خاطر نه چې
تاسو خفه شوي وئ، بلکې په دې چې ستاسو خفګان ستاسو د دې
سبب شو چې توبه وباسئ. ځکه چې ستاسو خفګان د خدای د
ارادې له مخې ؤ، ترڅو زمونږ له خوا تاسو ته هېڅ زیان ونه رسیږي.
١٠ ځکه هغه غم او خفګان چې د خدای د ارادې له مخې راپیدا
کیږي، هغه د توبې سبب کیږي، ترڅو خلاصون ومومو او په هغه کې
هېڅ پښېماني نشته، خو دنیاوي غم او خفګان د مرګ سبب کیږي.
١١ ګورئ، هغه خفګان چې د خدای د ارادې له مخې په تاسو
راغی، هغه په تاسو کې کوم شیان راپیدا کړل: څومره جدیت او
زړورتیا، د ځانونو نه د دفاع کولو شوق، قهر، وېره، لېوالتیا، غیرت او
بدو کارونو ته د سزا ورکولو غوښتنه. تاسو خپل ځانونه ثابت کړل
چې په هر کار کې بېګناه یئ. ١٢ که څه هم ما تاسو ته په دې
لیک کې سخت شیان ولیکل، خو دا په دې خاطر نه وو چې څوک
غلط کارونه کوي یا د چا سره بدي کیږي، بلکې مقصد دا ؤ چې د
خدای په حضور کې تاسو ته دا ښکاره شي چې زمونږ سره څومره
مینه او علاقه لرئ. ١٣ په دې باندې زمونږ د ټولو تسلي وشوه.

نه یوازې دا چې زمونږ تسلي وشوه، بلکې کله چې مونږ د تیتوس

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالي وليدله نو نور هم خوشحاله شولو، ځکه چې د هغه روح
ستاسو ټولو په وسيله تازه شو. ۱۴ ما هغه ته وويل چې زه په تاسو
باندې څومره وياړم او تاسو زه نااميده نه کړم. لکه څنګه چې ستاسو
په هکله زما ټولې خبرې رښتيا وې، نو د تيتوس په وړاندې په تاسو
باندې زمونږ وياړ هم رښتيا ثابت شو. ۱۵ کله چې هغه ستاسو
فرمانبرداري چې د هغه څخه مو وکړه، يادوي او څنګه په وېره او
لړزېدلو سره مو هغه قبول کړ، نو ستاسو سره د هغه مينه نوره هم
زياتيږي. ۱۶ زه خوشحاله يم چې کولای شم په تاسو باندې پوره
باور ولرم.

## سخاوت کول

۸ ۱ اوس ای خويندو او ورونو! مونږ غواړو چې تاسو د خدای
د هغه فضل نه خبر شئ چې د مقدونيې په کليساګانو باندې شوی
دی. ۲ که څه هم هغوی د ډېرو ستونزو له امله چې ورسره مخ
شوي دي، ازمايل شوي دي او ډېر غريبان وو، خو بياهم هغوی په
ډېرې خوشحالۍ سره ډېر زيات سخاوت وکړ. ۳ ځکه چې زه
شاهدي ورکوم هغوی چې څومره کولای شول او حتی د خپل توان
نه يې هم زيات په خپله خوښه ورکړل. ۴ هغوی مونږ ته سختې
زارۍ وکړلې چې غواړي د اورشليم د ايماندارانو سره په مرسته کولو
کې شريک شي. ۵ دا زمونږ د توقع او هيلې نه زيات وو، ځکه
چې هغوی لومړی خپل ځانونه څښتن ته او بيا يې د خدای د ارادې
له مخې مونږ ته وسپارل. ۶ نو ځکه مونږ د تيتوس نه وغوښتل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه څنګه چې هغه دا کار پیل کړی ؤ، نو په همدې ډول دې په تاسو کې دا د خیر کار پوره کړي. ۷ خو لکه څنګه چې تاسو په هرڅه کې یعنې په ایمان، په خبرو، په پوهه، په ټولو شیانو کې په لېوالتیا او زمونږ سره د مینې په لرلو کې مخکې یئ، نو مونږ غواړو چې تاسو د فضل او خیر په دې کار کې هم مخکې اوسئ.

۸ زه دا تاسو ته د یو حکم په توګه نه وایم، بلکې غواړم چې ستاسو د مینې رښتینولي د نورو د لېوالتیا سره د پرتله کولو دپاره وازمایم. ۹ تاسو زمونږ د څښتن عیسی مسیح د فضل نه خبر یئ. که څه هم هغه شتمن ؤ، خو ستاسو په خاطر هغه غریب شو، ترڅو تاسو د هغه د غریبۍ په وسیله شتمن شئ.

۱۰ نو زه په دې هکله تاسو ته نصیحت کوم، ځکه چې دا ستاسو په ګټه دی: تېر کال چې تاسو کوم کار پیل کړی، هغه اوس ترسره کړئ. یوازې دا نه چې تاسو په ورکړه کې لومړی وئ، بلکې تاسو هم لېوالتیا لرله چې هغه سرته ورسوئ. ۱۱ نو کوم کار چې مو پیل کړی دی هغه سرته ورسوئ او د خپلې لېوالتیا له مخې څه چې اوس لرئ د هغو په وسیله دا کار وکړئ. ۱۲ ځکه که چېرې څوک لېوالتیا لري چې کوم څه ورکړي، نو د هغه هدیه به د خدای له خوا قبوله شي. البته څوک چې دومره څه ولري چې ورکولای یې شي، که هغه کم وي یا زیات، خو څه چې لري د هغې یوه برخه دې ورکړي.

۱۳-۱۴ زه نه غواړم چې په تاسو باندې په بار اچولو سره نور خلک ارام شي، بلکې غواړم څه چې اوس تاسو سره پرېمانه دي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغو خلکو ته يې ورکړئ چې محتاج دي. ترڅو کله چې تاسو
محتاج شئ، نو هغوی سره چې کوم څه پرېمانه دي تاسو ته يې
درکړي. په دې ډول به برابري رامنځته شي. ۱۵ لکه څنګه چې د
خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

چا چې زيات راټول کړي دي، نو د هغه سره ډېر زيات نه وو او چا
چې لږ راټول کړي وو، نو د هغه سره لږ نه وو.

## د پولوس له خوا تيتوس او د هغه ملګري ته سپارښتنه

۱۶ د خدای شکر دی چې هغه د تيتوس په زړه کې هماغه شوق
او علاقه پيدا کړې ده چې مونږ يې ستاسو دپاره لرو. ۱۷ هغه نه
يوازې دا چې زمونږ غوښتنه يې ومنله چې يوځل بيا تاسو سره
ووينې، بلکې په خپله يې لېوالتيا لرله چې لاړ شي او تاسو سره
ووينې. ۱۸ د هغه سره مونږ هغه ورور درلېږو چې په ټولو
کليساګانو کې د زيري په رسولو کې مشهور دی. ۱۹ برسېره‌پردې،
هغه د کليساګانو له خوا ټاکل شوی دی چې زمونږ سره د مالي
مرستو د رسولو په کار کې زمونږ سره په سفر کې ملګرتيا وکړي، د
دې دپاره چې خپله څښتن ته جلال ورکړو او د مرستې دپاره خپله
لېوالتيا ښکاره کړو. ۲۰ مونږ د دې سخاوتمندانه مرستې د راټولولو
او وېشلو څارنه کوو، ترڅو څوک په مونږ باندې نيوکه ونه کړي.
۲۱ زمونږ مقصد دا دی چې هغه څه وکړو چې يوازې د څښتن په
نظر کې نه بلکې د خلکو په نظر کې هم سم وي.

۲۲ مونږ د هغوی سره خپل بل ورور چې څو څو ځلې مو ازمايلی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی او په ډېرو شیانو کې مونږ ته د هغه لېوالتیا او جدي‌توب معلوم
شوی دی، درلېږو. اوس هغه د هغه زیات باور له امله چې په تاسو
يې لري، د بل هر وخت نه زيات غواړي چې مرسته وکړي. ۲۳
خو د تيتوس په هکله بايد ووايم چې ستاسو سره د مرستې په خاطر
زما ملګرى او همکار دى. همدارنګه د نورو ايماندارانو په هکله چې
راغي بايد ووايم چې هغوى د کليساګانو استازي دي او مسيح ته
جلال ورکوي. ۲۴ نو خپله مينه هغوى ته ثابته کړئ او وښايئ چې
ټولې کليساګانې يې ووينې چې مونږ په تاسو باندې بېځايه وياړ نه
کوو.

## د محتاجو ايماندارانو سره مالي مرسته

**۹** ۱ زما دپاره لازمه نه ده چې تاسو ته د يهوديې د ايماندارانو
سره د مرستې په هکله وليکم. ۲ ځکه زه پوهېږم چې تاسو
غواړئ مرسته وکړئ. ما د مقدونيې د خلکو په وړاندې په تاسو
باندې وياړ وکړ او ومې ويل چې په جنوبي يونان کې زمونږ ورونه يو
کال مخکې دې مرستې ته تيار وو او ستاسو دې لېوالتيا ډېر خلک
وهڅول. ۳ خو زه دا ورونه تاسو ته درلېږم، ترڅو په دې هکله
چې مونږ په تاسو باندې کوم وياړ کړی دی، هغه تشې خبرې نه وي.
لکه څنګه چې ما تاسو ته وويل چې د هغوى سره د مرستې کولو
دپاره تيار اوسئ. ۴ که نه، نو که چېرې د مقدونيې ځينې خلک
زما سره راشي او ووينې چې تاسو تيار نه يئ، نو مونږ به وشرمېږو،
ځکه چې په تاسو مو باور کړی دی. ۵ نو ما دا لازمه وګڼله چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دې ورونو څخه وغواړم چې زما نه مخکې تاسو ته درشي او هغه
مالي مرستې چې تاسو يې وعده کړې وه، مخکې له مخکې تيار
اوسي، ترڅو دا معلومه شي چې ستاسو دا سوغاتونه د خپلې خوښې
له مخې دي، نه دا چې تاسو مجبور کړای شوي يئ.

## د مالي مرستو برکتونه

٦ ياد ساتئ، څوک چې زيات تخم کري، نو زيات حاصل به
اخلي او که څوک لږ تخم کري، نو لږ حاصل به اخلي. ٧ نو تاسو
هر يو دې په هماغه اندازه ورکړي چې زړه يې غواړي، نه دا چې
زړه يې نه غواړي او يا يې د مجبوريت له مخې ورکوي، ځکه چې
خدای د هغه چا سره مينه کوي چې په خوشحالۍ سره يې ورکوي.
٨ خدای کولای شي چې هرڅه ته چې تاسو اړتيا لرئ، پرېمانه
درکړي او تاسو سره به هرڅه پرېمانه وي چې نورو ته يې ورکړئ.
٩ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

څوک چې په سخاوت سره د محتاجانو سره مرسته کوي، نو د هغه
نېک اعمال د تل دپاره پاتې کيږي.

١٠ نو هغه خدای چې بزګر ته تخم ورکوي او د خوړلو دپاره
ډوډۍ ورکوي، تاسو ته به د کرلو دپاره تخم درکړي او هغه به زيات
کړي او په تاسو کې به د سخاوت حاصل هم ډېر کړي. ١١ تاسو
به په هرڅه کې شتمن شئ او په هر لحاظ به سخاوتمند اوسئ. کله
چې مونږ ستاسو هديې او سوغاتونه محتاجو خلکو ته يوسو، نو
هغوی به د خدای شکر وکړي. ١٢ ځکه چې دا خدمت نه يوازې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا چې د خدای د خلکو اړتیاوې پوره کوي، بلکې د دې سبب کیږي
چې ډېر خلک به د خدای شکرګزاري وکړي. ۱۳ نو ستاسو د
خدمت له امله به هغوی خدای ته جلال ورکړي، ځکه چې د هغوی
او ټولو ایماندارانو په وړاندې ستاسو سخاوتمندي به دا ثابته کړي
چې تاسو د مسیح د زیري منونکي او تابعدار یئ. ۱۴ نو هغوی به
د خدای د هغه لوی فضل له امله چې په تاسو باندې یې کړی دی، په
ډېره مینه ستاسو دپاره دعا کوي. ۱۵ د خدای د هغه قیمتي نعمت
دپاره د هغه شکر کوو.

## پولوس رسول د خپل خدمت څخه دفاع کوي

۱۰ ۱ زه پولوس ستاسو څخه د مسیح په عاجزۍ او نرمۍ کې
غوښتنه کوم. هو، هماغه پولوس چې خلک وایي ستاسو په مخکې
عاجز یم خو کله چې ستاسو نه لېرې یم، نو زړور یم. ۲ خو زه
ستاسو څخه غوښتنه کوم چې کله تاسو سره یم، نو ما مه مجبوروئ
چې سخت چلند وکړم لکه څنګه چې ځیني خلک ګومان کوي چې
مونږ د انساني معیارونو له مخې عمل کوو. ۳ که څه هم مونږ په
دې نړۍ کې اوسیږو، خو زمونږ جنګ انساني نه دی. ۴ کومې
وسلې چې مونږ ورباندې جنګ کوو، هغه دنیاوي وسلې نه دي، بلکې
زمونږ وسلې خدایي او اسماني قدرت دی چې قوي کلاګانې ورانوي.
۵ مونږ هغه بحثونه او د غرور نه ډکې نظریې چې د خدای
پېژندنې په خلاف دي، له منځه وړو او د هر ډول نافرمانه خیالونو
مخه نیسو او هغوی ته زده کوو چې د مسیح اطاعت وکړي. ۶
کله چې تاسې په پوره توګه فرمانبردار شئ، نو بیا به مونږ هر هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چاته چې نافرمانه پاتې کيږي سزا ورکړو.

۷ تاسو يوازې د يو شي ظاهري شکل ته ګورئ. که چيرې څوک
په دې باندې باور لري چې د مسيح سره تړاو لري، نو پريږدئ چې
هغوی يوځل بيا د خپلو ځانونو په هکله فکر وکړي لکه څنګه چې
هغوی دي، نو مونږ هم يو. ۸ نو که چيرې زه په هغه اختيار
باندې لږ زيات وياړ وکړم چې خدای راته ستاسو د ايمان د قوي
کولو دپاره راکړی دی، نه ستاسو د بربادۍ دپاره، نو زه په دې نه
شرميږم. ۹ زه نه غواړم تاسو ته داسې ښکاره شي چې په خپلو
ليکونو سره تاسو ووېروم. ۱۰ ځکه چې ځينې به ووايي: «د هغه
ليکونه سخت او قوي دي، خو کله چې هغه په خپله حاضر وي، نو
کمزوری وي او خبرې يې بې‌ارزښته وي.» ۱۱ داسې خلک بايد په
دې پوه شي څه چې مونږ په خپل نشتون کې د ليکونو په وسيله
تاسو ته وايو، نو کله چې تاسو سره يو، نو هغه به عملي کوو.

۱۲ مونږ خپل ځانونه د هغو خلکو سره نه برابروو او نه پرتله کوو
چې د خپلو ځانونه ستاينه کوي. خو کله چې هغوی خپل ځانونه د
يو بل سره اندازه او پرتله کوي، نو معلوميږي چې هغوی هيڅ نه
پوهيږي. ۱۳ خو مونږ د حد نه زيات وياړ نه کوو، بلکې د کار تر
هغه حده پورې وياړو چې خدای زمونږ دپاره ټاکلی دی او په هغه
کې هغه کار هم شامل دی چې مونږ يې تاسو سره کوو. ۱۴ مونږ د
خپل حد څخه تيری نه کوو، داسې لکه چې مونږ هيڅکله تاسو ته نه
يو راغلي. ځکه چې مونږ لومړني کسان وو چې د مسيح زيری مو
تاسو ته ورساوه. ۱۵ مونږ د نورو په کار باندې وياړ نه کوو چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه حد نه يې زيات کړی دی چې خدای زمونږ دپاره ټاکلی دی.
خو مونږ په دې هیله یو چې ستاسو ایمان قوي شي او وکولای شو
چې ستاسو په منځ کې د خپل خدمت او کار ساحه پراخه کړو، ۱۶
ترڅو مونږ وکولای شو چې ستاسو نه هغه خوا سیمو ته زېری
ورسوو او په هغه خدمت او کار باندې ویاړ ونه کړو چې پخوا د بل
چا په ساحه کې شوی دی.

۱۷ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

څوک چې غواړي ویاړ وکړي، نو په څښتن باندې دې ویاړ وکړي.

۱۸ ځکه څوک چې په خپله د خپل ځان ستاینه کوي، هغه د منلو
وړ نه دی، بلکې هغه څوک خدای ته د منلو وړ دی چې څښتن یې
ستاینه کوي.

## پولوس د جعلي رسولانو په هکله خبرداری ورکوي

۱۱ ۱ ستاسو څخه زما هیله ده چې زما دا لږ حماقت وزغمئ.
ستاسو څخه غواړم چې ماته حوصله وکړئ. ۲ زما غیرت ستاسو
دپاره لکه د خدایي غیرت په شان دی، ځکه چې ما وعده کړې ده
چې تاسو یو مېړه یعنې مسیح ته واده کړم او د یوې پاکې پېغلې په
شان مو هغه ته وړاندې کړم. ۳ خو زه وېرېږم لکه څنګه چې حوا
د یو چالاکه مار په وسیله وغولېدله، ستاسو خیالونه هم د هغې
رښتیني او پاکې مینې څخه راونه ګرځي چې د مسیح سره لرئ. ۴

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه که چېرې څوک راشي او تاسو پرته له هغه عیسی چې مونږ
درته پېژندلی دی، کوم بل عیسی ته وروپېژني یا تاسو یو روح چې د
روح القدس نه فرق لري، ترلاسه کړئ. یا د هغه زیري نه پرته چې
تاسو اورېدلی دی، بل زیری درکړي، نو تاسو یې په اسانۍ سره
قبلوئ.

۵ خو زه خپل ځان ستاسو د تش په نامه لویو رسولانو څخه کم
نه ګڼم. ۶ که څه هم زه ښه ویاند نه یم، خو علم او پوهه لرم او دا
مې تاسو ته په پوره توګه روښانه کړې ده.

۷ ایا دا زما ګناه وه چې د خدای زیری مې تاسو ته په وړیا توګه
درورساوه او خپل ځان مې عاجز کړ ترڅو تاسو سرلوړي اوسئ؟
۸ ما خپله اجوره د نورو کلیساګانو څخه واخیستله او هغوی مې
لوټ کړل، ترڅو وکولای شم ستاسو خدمت وکړم. ۹ کله چې زه
ستاسو سره وم او کوم څه ته مې اړتیا درلوده، نو په تاسو کې مې په
یو کس باندې مالي بار وانه چاوه، بلکې کله چې د مقدونیې څخه
ځینې ورونه راغلل، نو زما اړتیاوې یې پوره کړلې. زه هېڅکله هم
ستاسو په اوږو بار شوی نه یم او په راتلونکې کې به هم نه شم. ۱۰
د مسیح د هغه حقیقت له مخې چې په ما کې دی وایم چې هېڅوک
نه شي کولای چې په ټول جنوبي یونان کې زما د دې ویاړ مخه
ونیسي. ۱۱ ایا دا د دې دپاره وایم چې ستاسو سره مینه نه لرم؟
خو خدای پوهېږي چې زه تاسو سره مینه لرم.

۱۲ کوم کار چې زه یې کوم هغه ته به دوام ورکوم، ترڅو د هغو
خلکو مخه ونیول شي چې د دې موقع په لټه کې دي چې په دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ویاړ وکړي چې هغوی زمونږ په شان کار کوي. ١٣ ځکه چې
داسې خلک جعلي رسولان او چلباز خدمتګاران دي چې خپل
ځانونه یې د مسیح د رسولانو په شان کړي دي. ١٤ دا کومه د
حیرانتیا خبره نه ده، ځکه چې شیطان هم خپل ځان د یوې نوراني
فرښتې په شان جوړوي. ١٥ که چېرې د شیطان خدمتګاران خپل
ځانونه د رښتیني خدمتګارانو په شان جوړ کړي، نو دا کومه
حیرانوونکې خبره نه ده. په پای کې به هغوی د خپلو عملونو سزا
ووینې چې د هغو لایق دي.

## پولوس تکلیفونه زغمي

١٦ زه بیا بیا وایم چې هېڅوک دې فکر ونه کړي چې زه کم عقل
یم، خو که چېرې ما کم عقل وګڼې، نو لږ تر لږه دې ما د یو کم عقل
په توګه ومنې، ترڅو وکولای شم زه هم په خپل ځان باندې ویاړ
وکړم. ١٧ اوس چې زه کوم څه وایم هغه راته څښتن نه دي ویلي
چې زه یې وایم، نو زه چې ویاړ کوم، د یو کم عقل په شان یې کوم.
١٨ خو څرنګه چې ډېر خلک د انساني معیارونو له مخې ویاړ
کوي، نو زه به یې هم کوم. ١٩ تاسو په خوشحالۍ سره احمقان او
بې‌عقله خلک زغمئ، ځکه چې تاسو ډېر هوښیار یئ. ٢٠ ځکه
هرڅوک چې ستاسو نه غلامان جوړوي، هرڅه درڅخه اخلي،
ستاسو نه غلطه ګټه اخلي، خپل ځان لوی ښایي یا ستاسو په مخ
څپېړه درکوي، هغه زغمئ. ٢١ زه په شرم سره باید ووایم چې مونږ
ډېر کمزوري یو چې دا کار وکړو.

که چېرې څوک جرات کوي چې په کوم شي باندې ویاړ وکړي، نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه هم جرات کوم چې په هغې باندې وياړ وکړم، نو زه لکه د يو کم
عقل په شان دا خبرې کوم. ۲۲ ايا هغوی عبرانيان دي؟ نو زه هم
يم. ايا هغوی اسراييليان دي؟ نو زه هم يم. ايا هغوی د ابراهيم د نسل
څخه دي؟ نو زه هم يم. ۲۳ ايا هغوی د مسيح خدمتګاران دي؟ نو
زه د هغوی نه هم ډېر ښه خدمتګار يم. زه لکه د يو لېوني په شان
خبرې کوم، خو ما د هغوی نه زيات زحمت ويستلی دی او د هغوی
نه زيات زنداني شوی يم. ډېر زيات وهل شوی يم او څو څو ځلې د
مرګ سره مخامخ شوی يم. ۲۴ زه د يهوديانو له خوا پنځه ځلې او
هر ځل نهه دېرش قمچينې وهل شوی يم، ۲۵ درې ځلې په
کوتکونو وهل شوی يم او يوځل سنګسار شوم. درې ځلې مو
کشتۍګانې ماتې شوې او يوه شپه او ورځ مې په بحر کې تېره کړه.
۲۶ زه په خپلو سفرونو کې د مختلفو خطرونو سره لکه د سېلاب، د
داړه مارانو، د خپل قوم د خلکو، د غيريهوديانو، په ښار کې، په دښته
کې، د بحيرې او جعلي ايماندارانو له خوا د خطر سره مخ شوی يم.
۲۷ ما سخت کار کړی او زحمتونه مې ايستلي دي، ډېر ځلې مې
بې‌خوبۍ تېرې کړي دي، لوږې او تندې مې تېرې کړې دي او په
پوره اندازه خواړه او کالي مې نه درلودل چې په يخنۍ کې مې
اغوستي وای او ګرم شوی وای. ۲۸ برسېره‌پردې شيانو، زه د فشار
لاندې وم چې هره ورځ به مې د کليساګانو په هکله فکر کاوه. ۲۹
څوک چې کمزوری شي، نو ايا زه ورسره کمزوری نه شم؟ څوک
چې بې‌لارې کيږي، نو ايا زه به يې له غمه نه سوځم؟

۳۰ د دې دپاره چې زه وياړ وکړم، نو په هغو شيانو باندې يې بايد
وکړم چې زما کمزورې ښکاره کوي. ۳۱ خدای چې د خښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسی پلار دی او تل یې باید ثنا او صفت وشي، هغه پوهیږي چې
زه دروغ نه وایم. ۳۲ کله چې زه د دمشق په ښار کې وم، نو د هغه
ځای والي چې د حارث پاچا له خوا ټاکل شوی ؤ، په ښار کې
ساتونکي ځای په ځای کړل چې ما ونیسي. ۳۳ خو زه د ښار د
دېوال د کړکۍ نه په ټوکرۍ کې ښکته کړای شوم او د هغوی نه
وتښتېدم.

## د پولوس رسول رویاګانې او مکاشفې

۱۲ ۱ زه باید ویاړ وکړم، که څه هم هېڅ ګټه نه لري. خو زه
به د هغو رویاګانو او مکاشفو په هکله خبرې کوم چې څښتن ماته
راکړې دي. ۲ زه یو سړی چې په مسیح باندې ایمان لري، پېژنم
چې څوارلس کاله مخکې درېیم اسمان ته یووړل شو، خو زه نه
پوهېږم چې په جسماني توګه ؤ یا په روحاني توګه، خو خدای
پوهیږي. ۳-۴ زه پوهېږم چې دا سړی جنت فردوس ته یووړل
شو، که هغه په جسماني توګه ؤ یا په روحاني توګه. زه نه پوهېږم،
خو خدای پوهیږي. خو هغه داسې شیان واورېدل چې په خبرو کې
بیان کېدلی نه شي، داسې شیان چې هېچا ته یې د بیانولو اجازه نشته.
۵ زه په داسې سړي ویاړ کوم، خو زه به پرته له خپلو کمزوریو نه
په خپل ځان ویاړ ونه کړم. ۶ که ما غوښتي وای چې په خپل
ځان ویاړ وکړم، نو زه به کم عقل نه وم، ځکه چې ما به رښتیا خبرې
کړې وای. خو زه به داسې ونه کړم، ترڅو څوک ماته د هغه څه نه
چې په ما کې یې ویني او یا یې زما نه اوري، ماته زیات ارزښت
راکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ نو د دې دپاره چې د هغو حيرانوونکو مکاشفو له امله مغرور نه
شم، نو زما په بدن باندې اغزي ولګېدل چې د شيطان استازي وو
چې ما وځوروي، ترڅو زه مغروره نه شم. ٨ په دې هکله ما
درې ځلې څښتن ته زارۍ وکړلې چې دا اغزي راڅخه لیرې کړي.
٩ خو هغه ماته وويل: «زما فضل ستا دپاره بس دی، ځکه چې
زما قدرت ستا په کمزورۍ کې پوره کيږي.» نو زه به په ډېرې
خوشحالۍ سره په خپلې کمزورتيا باندې وياړ کوم، ترڅو د مسيح
قدرت په ما کې پاتې شي. ١٠ له دې امله زه د مسيح په خاطر
کمزورۍ، سپکاوی، سختې، ځورونې او مصيبتونه منم. ځکه چې زه د
کمزورۍ په وخت کې قوي يم.

## د کليسا دپاره د پولوس رسول اندېښنه

١١ زه کم عقل شوم، ځکه چې تاسو مجبور کړم چې داسې وکړم،
حال دا چې تاسو بايد زما ستاينه کړې وای. که څه هم زه هيڅ نه يم،
خو بياهم د هغو تش په نامه رسولانو څخه کم نه يم. ١٢ ما په ډېر
صبر او حوصلې سره په تاسو کې ډېرې نښې، عجيبه کارونه او
معجزې وښودلې او دا مې ثابته کړه چې زه رښتينی رسول يم. ١٣
يوازېنی شی چې ما د نورو کليساګانو سره وکړ او تاسو سره مې ونه
شو کړای، هغه دا ؤ چې په تاسو باندې مې مالي بار وانه چاوه. زما دا
غلطي وبخښئ.

١٤ اوس زه تيار يم چې د دريم ځل دپاره ستاسو ليدلو ته راشم،
خو زه نه غواړم چې په تاسو باندې بار واچوم، ځکه چې زه تاسو
غواړم، نه ستاسو مال او جايداد. ځکه چې ماشومان مجبوره نه دي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې خپل مور او پلار ته کوم څه تيار کړي، بلکې مور او پلار يې
بايد خپلو ماشومانو ته تيار کړي. ۱۵ زه ډېر خوشحاله يم چې
خپل هرڅه او ترديې چې خپل ځان ستاسو نه قربان کړم. که زه تاسو
سره زياته مينه کوم، نو ايا تاسو به زما سره لږه مينه وکړئ؟

۱۶ تاسو پوهېږئ چې زه ستاسو په اوږو بار شوی نه يم. خو په
تاسو کې ځينې وايي چې زه چلباز يم او په چل سره ستاسو نه غلطه
ګټه اخلم. ۱۷ ايا ما د هغو کسانو په وسيله چې تاسو ته مې
درلېږلي دي، کومه غلطه ګټه اخيستې ده؟ ۱۸ ما د تيتوس څخه
وغوښتل چې تاسو ته درشي او د هغه سره مې يو ورور درولېږه، ايا
تيتوس ستاسو نه کومه غلطه ګټه اخيستې ده؟ نه، ايا مونږ يو روح نه
لرو؟ ايا د يو بل سره په يوه لاره قدم نږدو؟

۱۹ ايا تاسو فکر کوئ چې دومره وخت مونږ ستاسو په وړاندې د
خپلو ځانونو څخه دفاع کوو؟ نه، خو مونږ د خدای په حضور کې او
په مسيح کې خبرې کوو. ګرانو دوستانو، مونږ چې هرڅه کوو هغه د
دې دپاره کوو چې تاسو قوي شئ. ۲۰ ځکه زه وېرېږم چې کله
درشم او لکه څنګه چې زه يې غواړم تاسو هغه شان ونه وينم او
څنګه چې تاسو غواړئ ما هغه شان ونه وينئ. زه وېرېږم چې په
تاسو کې به جګړې، کينې، بدخويي، ځان غوښتنه، ښکنځلې، غيبت،
غرور او ګډوډي وي. ۲۱ زه وېرېږم کله چې تاسو ته بيا درشم،
خدای مې ستاسو په مخکې ونه شرموي او د هغو کسانو په خاطر
چې ګناهونه يې کړي دي او د ناپاکۍ، جنسي بد اخلاقۍ او شهوت
پرستۍ نه يې توبه نه ده ويستلې، غمجن نه شم.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## وروستنی خبرداری او سلامونه

۱۳ ۱ دا درېم ځل دی چې زه ستاسو د لیدلو دپاره درځم.
لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي: «هره دعوه باید
د دوه یا درېو شاهدانو له خوا تایید شي.» ۲ کله چې ما د دوهم
ځل دپاره تاسو سره وکتل، ما هغو کسانو ته چې پخوا یې ګناه کړې
وه او نورو ټولو ته خبرداری ورکړ او اوس چې ستاسو نه لېرې یم
یوځل بیا خبرداری درکوم. کله چې بل ځل راشم، نو هېڅوک به د
سزا نه خلاص نه شي. ۳ ځکه چې تاسو هغه ثبوت غواړئ چې
مسیح زما په وسیله خبرې کوي. کله چې هغه تاسو اصلاح کوي نو
هغه کمزوری نه دی، بلکې هغه په تاسو کې قدرتمند دی. ۴ که
څه هم کله چې هغه په صلیب باندې د ځوړندېدلو په وخت کې
کمزوری ؤ، خو اوس د خدای په قدرت سره ژوند کوي. مونږ هم
کمزوري یو لکه څنګه چې مسیح ؤ، خو مونږ به هم د خدای په
قدرت سره ژوند کوو، ترڅو ستاسو خدمت وکړو.

۵ خپل ځانونه وازمایئ، ترڅو ووینئ چې ستاسو ایمان رښتینی
دی که نه. خپل ځانونه وازمایئ. ایا تاسو په خپل ځان پوه شوي نه
یئ چې عیسیٰ‌مسیح په تاسو کې دی؟ که په تاسو کې نه وي، نو
تاسو په ازمېښت کې ناکام شوي یئ. ۶ زه په دې هیله یم چې
تاسو په دې پوه شئ چې مونږ په دې ازمېښت کې ناکام شوي نه یو.
۷ خدای ته زما دا دعا ده چې تاسو کوم غلط کار ونه کړئ. مونږ
دا دعا د دې دپاره نه کوو چې دا وښایو چې مونږ په حقه یو، بلکې د
دې دپاره چې تاسو سم کارونه وکړئ، حتی که مونږ د خلکو په نظر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې ناکام ښکاره شو. ۸ ځکه چې مونږ د حقیقت په وړاندې هېڅ
نه شو کولای، بلکې باید د حقیقت په خاطر ودرېږو. ۹ ځکه مونږ
خوشحاله یو کله چې مونږ کمزوري یو او تاسو قوي یئ. زمونږ دعا
دا ده چې تاسو په مکمله توګه اصلاح شئ. ۱۰ زه دا شیان په
داسې حال کې تاسو ته لیکم چې ستاسو نه لیرې یم. دا د دې دپاره
چې کله زه تاسو ته درشم، دې ته مجبوره نه شم د هغه واک او
اختیار نه چې څښتن راته راکړی دی، کار واخلم او سخت چلند
درسره وکړم، بلکې وکولای شم چې تاسو قوي کړم، نه دا چې تاسو
له منځه یوسم.

۱۱ په پای کې، ای خویندو او ورونو! خوشحاله اوسئ. هڅه وکړئ
چې په ایمان کې پاخه اوسئ، یو بل ته تسلي ورکوئ، یو د بل سره
په همغږۍ کې اوسئ، په سوله او سلامتۍ کې ژوند وکړئ، نو بیا به د
مینې او سلامتۍ خدای درسره مل وي. ۱۲ په ښکلولو سره یو بل
ته سلام وایئ. ۱۳ د خدای ټول خلک تاسو ته سلامونه وایي. ۱۴
د څښتن عیسی مسیح فضل، د خدای مینه او روح القدس دې تاسو
ټولو سره ملګری وي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.